دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

او هر څوک چې ونیسي شیطان دوست بې له الله نو په تحقیق ښکاره زیان یې وکړ، وعده کوي (شیـطـان) لـه دوی سره او په باطلو امیدونو کې یې غورځوي. او نه کوي وعده له دوی سره شیطان مگر په فریب، ځای ددوی جهنم دی او نه به مومي دوی (شیطان تابعان) له دې دوزخه د تېښتې هیڅ ځای. (سورة النساء: ۱۱۹ - ۱۲۱)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

دوه وږي لیوان د وزو یوې رمې ته دومره نقصان نشي رسولې څومره چې د مال حرص او حسد د مسلمان دین ته نقصان رسوي، حسد د مسلمان نیکی داسې له منځه وړي لکه چې اور لرگې له منځه وړي. (ترغیب)

شهادت دویم کال، ۸۱ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لړم ۱۲ مه د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالقعدة ۲۲ مه د۲۰۱۰ م د نوامبر ۳ مه

لاوروف:

نظامیان روس به افغانستان باز نمی گردند

PROPERTY OF ACKU

به گزارش فارس به نقل از خبرگزاري اینترفکس، "سرگئی لاوروف" وزیر امور خارجه روسیه اعلام کرد که نظامیان روس هرگز به افغانستان باز نمي گردند.

وي گفت: "چنین مسئله ای کاملا منتفی است، نظامیان ما به افغانستان باز نخواهند گشت، این موضع قاطع ماست."

لاوروف تاکید کرد: "اگر چنین تفکري بعد از انجام عملیات مشترک نیروهاي ویژه روسي و امریکایي براي نابودی لابراتوارهای تولید مواد مخدر در افغانستان پیدا شده است، این طرز فکر جنبه تحریک‌آمیز دارد."

وزیر امور خارجه روسیه توضیح داد: "این

بقیه در صفحه ۴

خبرگزاري فارس:

وزیر امور خارجه روسیه تأکید کرد که نظامیان این کشور هرگز به افغانستان باز نخواهند گشت و مشارکت روسیه در عملیات ضد مواد مخدرءاخیر در این کشور، تنها جنبه رایزني و ارائه اطلاعات داشته است.

لست مصارف ریاست جمهوری اعلام میشود

کابل، رسانه ها:

تا چند روز دیگر لست مصارف کمک های ارایه شده از سوی ایران به دفتر ریاست جمهوری به دسترس رسانه ها قرار داده خواهد شد. وحید عمر سخنگوی رییس جمهور میگوید که دفتر ریاست جمهوری تا چند روز دیگر لست کامل این مصارف را منتشر خواهد کرد. وی که در نشست خبری خود دیروز صحبت میکرد، اضافه نمود که دفتر رییس جمهور این لست را در دسترس رسانه ها قرار خواهد داد تا مغشوشیتی که در این خصوص ایجاد شده، برطرف گردد.

از سوی دیگر نماینده گان مردم در پارلمان از هیئت اجرایی این شورا خواسته اند تا رییس جمهور حامد کرزی و عمر زاخیلوال وزیر مالیه به پارلمان فراء خوانده شوند. این نماینده گان می گویند که رییس جمهور و وزیر مالیه باید مشخص سازند که پول های کمک شده از سوی ایران در کدام منابع به مصرف رسیده است. مقامات در ریاست جمهوری می گویند که پول های کمک شده از سوی ایران به دفتر ریاست جمهوری در موارد نیاز دفتر ریاست جمهوری به مصرف رسیده است.

وحید عمر در ادامه سخنانش از ارایه یک طرح از سوی وزارت مالیه خبر داد که در آن بحث جلوگیری از مصارف گزاف مطرح

بقیه در صفحه ۴

درې مهمو طالب مقاماتو له ولسمشر کرزي سره خبرې کړي

امریکا، تاند ویب پاڼه:

د اسوشیتید پریس خبري اژانس راپور وایي چې د طالبانو درې مهمو غړیو دوه اوونۍ دمخه د افغانستان له ولسمشر حامد کرزي سره کتلي دي.

دا راپور په داسي حال کې دغه امریکایي خبري اژانس خپور کړی چې د افغانستان او پاکستان لپاره د امریکا خاص استازي ریچارد هولبروک د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د خبرو په باب خپاره شوي راپورونه په کلکه رد کړل او ویې ویل د وسله والو طالبانومشران د جگړې د پای ته رسېدو لپاره خبرو ته لېوالتیا نه ښيي.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې یوه پخواني افغان مقام وویل: په کابل کې د افغانستان له ولسمشرسره په غونډه کې د ننگرهار پخواني والي (د ختیځ زون تنظیمه رییس) مولوي عبدالکبیر هم برخه لرله.

تر دې پخوا هم کابل ته د ناټو څواکونو له

پاتې ٤ مخ

انتخابات ولسی جرگه و کاندیدان حزب اسلامی افغانستان

صفحه دوم

له اعتماد پرته سوله نشي راتلې

دریيم مخ

سویډن په افغانستان کې د خپل ماموریت د مودې غزولو پرېکړه وکړه

تاندویب پاڼه:

د سویډن اقلیت ښي اړخي حکومت او دوو مخالفو گوندونو د دوشنبې په ورځ موافقه وکړه چې په افغانستان کې د سویډني پوځیانو ماموریت به وغزول شي. د صدراعظم فردریک رینفیلډز چې په حکومت کې دوه څوکۍ لري چې په اقلیت کې راغلي او د ۵۰۰ سویډني عسکرو د ماموریت د غزېدو د تصویب لپاره له خپل مخالف گوند څخه ملاتړ ته اړتیا لري.

په دې برخه کې د هوکړې په رامنځته کېدو سره به حکومت روانه اوونۍ دغه لایحه برابره کړي، چې د پوځیانو د ماموریت غزېدل تاییدوي.

صدراعظم په دې وروستیو کې د مخالفو

پاتې ٤ مخ

نیوز ویک:

تقریباً همهء ملاقات های مقامات افغانی و ایرانی با تقدیم خریطه های پول نقد پایان یافته است

آزادی راډیو:

عاملین گسترش نفوذ و اعتبار ایران در افغانستان با دست باز فعالیت دارند.

روزنامهء نیویارک تایمزدر گزارش هفتهء گذشته اش مبنی بر این که مقامات ایرانی ملیون ها دالر را در داخل خریطهء پلاستیکی به عمر داوود زی رییس دفتر رییس جمهور کرزی تحویل داده اند، در واقع با ظاهر قضیه تماس گرفته است.

رییس جمهور کرزی با تایید گزارش روزنامهء نیویارک تایمز، تشویش در مورد فساد را در این رابطه رد کرده گفت، حکومتش خریطه های دریافت شدهء پول از ایران را به خاطر مصارف متفرقه و مساعدت به مردم به مصرف رسانیده است .

بقیه در صفحه ۴

سازمان ملل با "شورای عالی صلح " افغانستان همکاری می کند

خبرگزاری فارس:

نماینده ویژه دبیر کل سازمان ملل متحد در افغانستان در دیدار با اعضاي شوراي عالي صلح، از همکاري سازمان ملل با این شورا خبر داد.

به گزارش خبرنگار خبرگزاری فارس در کابل، دفتر مطبوعاتی شورای عالی صلح افغانستان با انتشار اطلاعیه ای از دیدار "استیفن دمستورا "نماینده ویژه دبیر کل سازمان ملل متحد با اعضای این شورا خبر داد.

بر اساس این اطلاعیه، در این دیدار که عصر روز گذشته صورت گرفته است، دمستورا حمایت خود را از تلاش هاي شوراي عالي صلح به منظور برقراري صلح و ثبات در افغانستان اعلام کرده و گفته است سازمان ملل نیز از تلاش های این شورا در سطح بین المللی حمایت خواهد کرد.

شوراي عالي صلح، بر اساس تصمیم "جرگه صلح "که تابستان در کابل برگزار شد، تشکیل شده است و این شوراي ۷۰ نفری قرار است مذاکره با طالبان را آغاز کنند.

موضوع مذاکرات صلح با طالبان از کجا آغاز شد؟

امریکا رسانه ها:

روزنامه امریکایی واشنگتن پست اخیراً گزارش داد که برخی تماس های مخفی میان حکومت افغانستان و نماینده گان طالبان برقرار شده است.

روزنامه به نقل از مقامات افغان و عرب گزارش داد که شرکت کننده های مذاکرات، از شورای کویته و ملا محمد عمر رهبر طالبان نماینده گی می کردند.

رویترز به نقل از منابع مختلف گزارش داده که تمامی جناح های دخیل در بحران، حالا رسیدن به یک معامله را بررسی می کنند.

اما منابع به شمول مقامات افغان، ناتو و غیر امریکایی گفته اند که گفتگو برای مذاکرات، یک مقدمه بوده است.

روزنامه نیویارک تایمز هم به نقل از منابع افغان گزارش داد که گفتگو های وسیع رو در رو میان حلقه داخلی کرزی و قوماندانان ارشد طالبان که پاکستان را به همکاری ناتو ترک کردند، صورت گرفته است.

در یکی از موارد، روزنامه گزارش داده که طالبان در یک طیاره ناتو منتقل شده اند. گفته می شود که ملا محمد عمر در این مذاکرات نقشی نداشته اما شبکه حقانی که با القاعده ارتباط دارد، در این گفتگو ها دخیل بوده است.

سوال دوم اینست که مقامات به صورت علنی چی می گویند؟

کرزی به همه گان گفته که تماس های مقدماتی با طالبان برقرار شده اما مذاکرات مستقیم صورت نگرفته است.

مقامات حکومت افغانستان پیش از این هم گفته بودند که در دو سال گذشته به نحوی با طالبان تماس داشته اند. ...

بقیه در صفحه ۴

د هېواد د ستر عالم دین شیخ الحدیث مولانا تره خېل فاتحه واخستل شوه

کابل، شهادت:

حزب اسلامي افغانستان د سه شنبې په ورځ د هېواد د ستر عالم او مجاهد شخصیت شیخ الحدیث مولانا سیدآغا تره خېل فاتحه د کابل په عیدگاه کې واخسته مولانا تره خېل د یکشنبې په ورځ له دې فاني نړۍ څخه سترگې پټې کړې وې، د فاتحې په دې مراسمو کې د هېواد گڼو علماو او جهادي شخصیتونو ترڅنگ دهغه معتقدینو او عامو وگړو گډون وکړ او دهغه روح ته یې دعاگانې ډالۍ کړې.

په یاده دې وي چې مرحوم مولوی صاحب تره خېل د افغانستان یو ستر نامتو عالم او شیخ الحدیث و، لومړنی زده کړې یې په هېواد کې دننه او لوړی زده کړې یې د هندوستان په دیوبند دارالعلوم کې ترسره کړې وې.

نوموړې په هېواد کې د شوروي اتحاد د یرغل په وخت د جهاد فتوه ورکړه او عملاً د جهاد او هجرت لاره خپله

پاتې ٤ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د پردیو د تیرې مخه په اعتراضونو او عکس العملونو نه شي نیول کیدې

د ننګرهار په اچین ولسوالی کې د نشه یي توکو د له منځه وړلو لپاره د ناټو او روسي ځواکونو د ګډ عملیات په خلاف د ولسمشر حامد کرزی له سخت عکس العمل نه وروسته د دوشنبی په ورځ مشرانو جرګې هم په دغو عملیاتو کې د روسي ځواکونو د ګډون په خلاف خپل شدید غبرګون ښود او ویې ویل چې دا د افغانستان په داخلي چارو کې بربنډه لاسوهنه ده.

د مشرانو جرګې لومړی معاون فضل هادي مسلم یار وویل: د افغانستان وګړي له روسي ځواکونو څخه ښه خاطره نه لري، نوموړی د ننګرهار په عملیاتو کې د روسي ځواکونو ګډون د افغانستان لپاره د خطر زنګ وباله او ویې ویل چې که دا عمل بیا له پاره تکرار شي نو د افغانستان د مسلمان ولس له سخت غبرګون سره به مخامخ شي.

پوښتنه داده چې آیا یواځې د سختو عکس العملونو په ښودلو او تقبیح کولو سره به روسیه او دغه په څیر نور تیري کوونکي هېوادونه له خپلو داسې ناوړو اعمالو څخه لاس په سر شي؟ ! آیا د افغانستان د جنګ ځپلي ولس په اعتراضونو او عکس العملونو به څوک غوږ و ګروي؟

زمکني حقایق دا را په ګوته کوي چې د تاریخ په اوږدو کې د کمزورو ولسونو او حکومتونو هیڅ راز اعتراضونه، فریادونه او ګلې شکوې چا نه دي اوریدلي. ظالم او تیری کوونکو ځواکونه همیشه لپاره د مظلومانو حقوق پښو لاندې کړي دی خو مظلوم ولسونه دهغوی په خلاف له تش اعتراض او عکس العمل ښودلو پرته په بل څه نه دي بریالي شوي، لکه چې پخپلو سترګو او غوږونو مو ولیدل او وامو وریدل چې د روسیې لوړ پوړو چارواکو د حامد کرزي په عکس العمل حیرانتیا وښود او دایې بې اهمیته وباله.

موږ د افغانستان مسلمان ولس باید دا واقعیت په نظر کې ونیسو چې د بهرنیو ځواکونو د تیریو مخه یواځې او یواځې په دې صورت کې نیول کیدی شي چې افغانان ټول یو موټی او یو آواز شي، په ملي او بین المللي مسائلو کې یو دریځ ونیسي، له خپلمنځي جګړو او اختلافاتو څخه لاس واخلي، غښتلی پوځ، پولیس او نظام ولري، غښتلي اقتصاد او غښتلې حکومت ولري، غښتلې ملت او غښتلې تعلیم ولري، لنډه یې دا چې د ژوند په هر ډګر کې بریالی او سرلوړی ژوند ولري. دا هر څه هله ممکن کیدلی شي چې د هر څه دمخه د هېواد ټول ولسونه د اتفاق او ورورۍ په تغر راغونډ شي، ټول د خپل هېواد د دفاع، پرمختګ، استقلال او خیر ښېګڼې لپاره د همت ملا ګانی وتړي، خو ډیر افسوس چې موږ له دې ستر نعمت څخه له ډیری مودې راهیسې محروم یو، او په دې نه یو بریالی شوې چې دغه له لاسه وتلې ستر نعمت بېرته ترلاسه کړو.

ښکاره خبره ده چې تر څو پورې مو له دې مات ګوډ حالت څخه د خپلو ځانونو د ویستلو کوښښ نه وي کړې او د نړۍ په سر مو د یو ستر واحد قوم او ملت په توګه تبارز نه وي کړې، د نړۍ یو هېواد به هم زموږ پر اعتراضونو او عکس العملونو غوږ نه ګروي بلکې برعکس به پر موږ ملنډې وهي لکه چې همدا اوس وهل کیږي. که د افغانستان حکومت او ملت دواړه د زړه له تل نه غواړي چې هېواد یې د پردیو له هر ډول تیریو، سپکاویو او ملنډو څخه محفوظ پاتې شي، اعتراضونه یې وزن او ارزښت پیدا کړي نو له دې پرته ورته بله هیڅ لاره نشته چې د افغانستان د داخلي استحکام او ملي وحدت لپاره په بشپړ اخلاص کار وکړي او د موجوده عصر له ضروریاتو نه، نه یواځې دا چې خبر شي بلکې ترلاسه یې هم کړي. ځکه چې یو غښتلې حکومت او غښتلې ټکنالوژي د غښتلې ملت له لارې منځ ته راتلې شي. بیا هېڅوک نشي کولې چې دداسی غښتلې حکومت عکس العمل نادیده وګڼي او غوږ ورباندې ونه ګروي.

الله مکړه که د افغانستان وګړي د داخلي استحکام او ملي یووالي په رامنځته کولو بریالی نشي نو له څه شک پرته ددې خبرې وړاند وینه کیدلې شي چې زموږ راتلونکی به لدینه هم ذلیل او خندوونکي وي چې د لاس مروړلونه پرته بل هیڅ نشو کولی.

راځئ خپل ژوند او وخت غنیمت وګڼو او له دې نه د سالمې ګټې په پورته کولو سره خپل دیني، ملي او افغاني مسؤولیت ترسره کړو، پخپلو کې د ورورۍ او یووالي لاسونه ور کړو، یو غښتلې او منظم فولادي صف جوړ کړو او په دې توګه خپل ځانو ته هم د عزت او آبرو ژوند یقیني کړو او خپل راتلونکی نسل ته هم د عزت او سرلوړی ژوند د تیرولو مضبوط بنسټ کیږدو.

انتخابات ولسی جرگه و کاندیدان حزب اسلامی افغانستان

سید نظام الدین زبارمل

به همه مردم شریف، مجاهد و حماسه آفرین افغانستان بخوبی معلوم است، که افراد مؤمن و متعهد حزب اسلامی در طول حیات سیاسی شان با معیارها و اوصاف ایمانداری، تقوی، صداقت، مجاهدت، حب الوطنی، آزادگی و بسا افتخارات علمی، جهادی، اخلاقی و فرهنگی آراسته بوده، شخصیت های مجاهد و رسالتمند حزب چون ستاره های تابناکی در صحنه های جهاد و مبارزه درخشیده و در دفاع از آزادی، استقلال و تمامیت ارضی کشور دوست داشتنی ما مجاهدانه و مردانه ایستاده جان های شیرین خود را در راه حفظ شرف، عزت و سربلندی افغانستان عزیز مؤمنانه، معتقدانه و داوطلبانه صرفاً بخاطر رضای الله جل جلاله و دَین اسلامی نثار نمودند. که اخراج قوای تا به دندان مسلح اتحاد جماهیر شوروی و آزادی کشور از سلطه هیولای کمونیزم جهانخوار و عواقب ناگوار آن همه و همه از برکت شهادت، جانبازی و حماسه آفرینی فرزندان مؤمن و متعهد حزب اسلامی بوده که صدای نعره های کفر شکن شان از بدو تاسیس نهضت جوانان مسلمان تا آغاز جهاد و آزادی کشور در فضای پاک وطن عزیز ما طنین انداز بوده، بهترین و اصیل ترین فرزندان متعهد حزب را غرض ادامه فریضه جهاد و شهادت راهی سلول های جهنمی دولت مردان بقایای شاهی و کمونستان بدنام و ملحد نموده اند. که یاد هر یک از آن استوره های متانت و مردانگی، ایمان داری و تقوا، تعهد و اخلاص تا جهان باقیست درج تاریخ نهضت و انقلاب اسلامی افغانستان و تاریخ نهضت های اسلامی جهان خواهد بود.

با این گذر کوتاه باز هم بخوبی در می یابیم که نهضت جوانان مسلمان و مجاهدین مؤمن و رسالتمند حزب اسلامی از بدو تاسیس نهضت و آغاز جهاد مسلحانه مورد توجه سردمداران کفری، ملحدین داخلی و حکومت های کودتایی و دست نشانده شوروی بوده و از هیچ گونه قصاوت و بی رحمی و اجراء انواع شکنجه ها در حق پیشگامان نهضت و اعضای مؤمن و متعهد حزب اسلامی دریغ نکرده اند. و در نهایت بعد از پیروزی انقلاب اسلامی حلقات معلوم الحال داخلی و خارجی با طرح و نقشهٔ از قبل پیش بینی شده در وحله نخست مانع شرکت حزب اسلامی در دولت گردیده و نگذاشتند تا حکومت دلخواه مجاهدین تشکیل گردد، تا مبنی بر آن از حضور فعال و مؤثر کمونستان در دولت اسلامی جلو گیری گردد و مجاهدین شکار توطیه های سازمان یافته دشمنان اسلام نگردند و از ترور شخصیت های جهادی که جز برنامه و پروگرام شان بود جلو گیری بعمل آید.

خوانندگان عزیز: دسایس و توطئه های خاینانه و ظالمانه در حق مجاهدین مؤمن و مخلص حزب اسلامی و سایر مجاهدین آزاده و متعهد به جهاد و تشکیل حکومت اسلامی در همین جا و بهمین قدر پایان نمی پذیرد بلکه خلاف همه معیارها و سرو صداهای آمدن دیموکراسی، حقوق مدنی... وغیره باز هم در همه پروسه های تحت نام دیموکراسی که اشتراک همه افراد و مردم کشور مانع و مشکلی نداشته برای افراد حزب اسلامی ممانعت و مزاحمت های غیر قانونی تحمیل گردیده و خلاف معیارهای وضع شده قصداً و عمداً از حضور و شرکت شان در پست های دولتی جلو گیری بعمل آمده، نگذاشتند تا اینان با استفاده از تخصص، تجربه، تقوا و احساس عالی خدمت گذاری صادقانه مصدر خدمت برای مردم مظلوم و رنج کشیده ما شده در محو کامل فساد اداری، آزادیهای بیش از حد و غیر شرعی و جلو گیری از منکرات و تطبیق احکام و هدایات قرآنی و نبوی صلی الله علیه وسلم سهم و نقش اسلامی و جهادی خود را ایفا و به آنانیکه نمیدانند اهلیت، درایت و کفایت خود را به اثبات برساند.

بناءً: انتخابات پارلمانی بحیث یکی از نمونه های دیموکراسی دروغین باز هم به اثبات رساند که حاکمان نظام و مهمانان شان علاقه ندارند تا مجاهدین مؤمن و مخلص حزب اسلامی بیش از حد انتظار شان وارد پارلمان کشور شوند و به یقین فیصله چنین بوده تا به اشکال و عناوین مختلف از حق ثابت و معلوم کاندیدان حزب اسلامی چشم پوشی گردد. و به هر شکل ممکن تحت نام قرنطین و اجرا تقلبات گسترده جلو کامیابی و ورود برادران مجاهد حزب را در پارلمان سد شوند.

لهذا نشان بارز این ادعا را در قرنطین صندوق های رأی دهی چهره های شناخته شده پارلمان و اعضای حزب اسلامی چون عبدالستار خواصی از غوربند ولایت پروان، برادر مجاهد عبدالهادی واحدی از ولایت لغمان، و برادر مجاهد رئیس محمد عمر از ولایت بادغیس، برادر گل زی از ولایت پکتیکا و شمار دیگری از مجاهدین حزب را در سایر ولایات میتوانید بخوبی ملاحظه، معلومات و اطلاع حاصل نمائید. علاوتاً در ماده ۸۳ قانون اساسی کشور آمده است که "در قانون انتخابات باید تدابیری اتخاذ گردد که نظام انتخاباتی نماینده گی عمومی و عادلانه را برای تمام مردم کشور تأمین نماید" در حالیکه در ولایت غزنی هیچگونه امنیت و زمینهٔ اشتراک مردم در انتخابات فراهم نگردیده و مردم از حق استعمال رأی بنابر عدم تأمین امنیت محروم ماندند که مبنی بر آن تمام وکلاء از یک قوم انتخاب شده اند که این خود عدم مشروعیت انتخابات و مغایرت کلی آنرا با مادهٔ ۸۳ قانون اساسی کشور نشان میدهد که اصولاً ایجاب انتخابات مجدد را در ولایت غزنی می نماید تا سهم سایر اقوام و ملیت های ساکن در آن ولایت مطابق حکم قانون تبلور یابد.

مسأله مضحک و تعجب آور دیگر را میتوان در ولایت میدان وردگ به گونه تخطی از قانون انتخابات و ناکام شدن کاندیدان حزب اسلامی در وردگ یاد نمود که بدون موجودیت شکایت و یا شکایات صندوق های عدهٔ از کاندیدان حزب اسلامی را قرنطین نموده اند و هیچگونه دلیل و منطق قانع کنندهٔ وجود ندارد تا شخص کاندید مؤکلین و جهت سیاسی آنرا قانع سازند این همه بی عدالتی، ظلم و ناروایی صرفاً حاصل و نتیجهٔ صدور فرمان می باشد که بر رخ همگان کشیده می شود.

قابل ذکر است که این همه در حال صورت می گیرد که از یکطرف بخاطر آشتی با مخالفین، مجالس و جرگه های صلح دایر و پول هنگفتی در تدویر و دوام آن به مصرف می رسد از جانب دیگر دولت با اجرا چنین مظالم و حق تلفی ها بصورت عملی و آشکارا از عدم صداقت و حسن نیت شان به همین مخالفین پیام می فرستند.

بناءً اگر اولیای امور و مبتکرین طرح ها و پروگرامهای متعددی بنام صلح، آشتی ... وغیره واقعاً به اصول دیموکراسی نام نهاد و اهداف جلسات پابند و معتقد هستند و آنرا نمایشی جلوه نمی دهند لازم است تا قبل از فوت وقت که فرصت از دست نرفته و زمانی برای اعلان نتایج نهایی باقی مانده بر فرمان صادرهٔ مشوره داده شده و پلان شده و سایر قیودات که همه و همه خلاف اهداف و مزایای دیموکراسی واقعی می باشد جداً تجدید نظر نموده، عوض مخالفین یکجا شده گان را نیز به نیات و اراده دولت و حکومت بی اعتماد نسازند و اجازه دهند تا اصول دیموکراسی بشکل که مستلزم آنست عملی گردد. و حق به حقدار سپرده شود. تا پارلمان نسبتاً مناسب و شایان تری را با ورود افراد مؤمن و معتقد داشته باشیم که در آن خیر مردم، کشور، منطقه و همه ما خواهد بود.

له اعتماد پرته سوله نشي راتلي

محمد خلیل

د سولې د رامنځ ته کېدو له پاره په زړه کې د باور ريښې پيدا کول داسې اړين دی لکه چې د گل د بوټي د زرغونولو له پاره دهغه د تخم د کرلو ضرورت دی، که څوک د گلانو د بوټو د زرغونولو څومره ناری سورې ووهي خو تر څو چې تخم يې نه وي کرلی د گلونو بڼ پخپله نشي زرغونيدای.

د سولې او امن فضأ هله منځ ته راتلې شي چې لومړی د جگړې عوامل له منځه ويوړل شي تر څو چې د جگړې صحنه د امن په صحنه نه وي بدله شوې د سولې راتگ ناشونی دی ځکه چې سوله او جگړه دواړه پخپلو کې د اور او اوبه مثال لري، کله چې د جگړې په ډگر کې ددوه متحاربو ډلو په زړونو کې د امن هيله پيدا شي نو له دې پرته بله هيڅ چاره نه لري چې يو بل ته د سولې او امن پيغام په داسې عملي بڼه کې ور کړي چې واقعاً دهغوی د ښه نيت او اخلاص ترجماني وکړي، داسې کله هم نشي کيدلې چې هم دی توري وچليږي او هم دې سوله تأمينه شي.

د افغانستان د سولې عالي شورا چې په لومړنی غونډه کې د ناټو له تړون څخه د سولې د خبرو اترو په خاطر د عملياتو د بندولو کومه پر ځای غوښتنه کړې وه د ناټو عمومي منشي راسموسن بايد ددې دغه پر ځای غوښتنه منلې وای، خو ډېر افسوس چې هغه پخپله وينا کې په څرگندو ټکو کې وويل چې که څه هم نړيوال ځواکونه له مخالفينو سره د سولې د هلو ځلو د ملاتړ لپاره چمتو دي خو د هغوی پر ضد جگړه نه شي ودرولې.

دغه شان څرگندونی د دوشنبې په ورځ د ايساف د ځواکونو ويانـد جنرال بيلاتس هم وکړې او ويې ويل: د خبرو اترو پر ميز د کيښنولو په خاطر پر مخالفينو نظامي فشار اچول ضروري دي. دوی دا خبره له ياده وباسي چې کله هم د سولې او امن په خبرو اترو کې په سلو کې سل اخلاص •وجود نه دي او صرف د فشار له لارې د روغې جوړې کولو کوښښ وشي نو هغه د مثبتې نتيجې پر ځای منفي نتيجه ورکوي ځکه چې هر عمل عکس العمل لري، د فشار په مقابل کې فشار، او د روغ نيتي په مقابل کې روغ نيتي منځ ته راځي.

که چېرته اصل مقصد د سولې راوستل وي او دواړو لوريو روغې جوړې ته خپل چمتووالې هم ښودلی وي نو په دې وخت کې بيا د فشار اچولو مطلب او معنی به د سولې د ورانولو پرته بل څه نه وي.

که چېرته دوه کسانو پخپلو کې د يو بل گريوان ته لاسونه اچولي وي او يو بل په سو کانو او څپېړو وهي نو څرگنده خبره ده چې پر هغوی به د سوکانو او څپېړو له باران پرته بل څه نه وی او خپل ځانونه به خوږوي خو که دوی پخپل پر دغې جگړې پښيمانه شي او له جنگ نه خلاصون وغواړي نو لدينه د خلاصون يواځينی صورت به دا وي چې دواړه به د يو بل گريوانونه پريږدي او يو يو گام به شاته کيږي. خو که يو لورې دا ووايي چې زه ترهغه ستا گريوان نه پريږدم تر څو چې دې زما برلاسی نه وي منلې نو ښکاره خبره ده چې بل لوری هم د ژوند تر آخري سلگې پورې له خپلې دفاع نه لاس نه اخلي. ددوه متحاربو لوريو ترمنځ د باور فضا هله راځي چې دواړه خپله وسله وغورځوي او عملاً دا ثابت کړي چې دواړه لورې خپله شخړه د خبرو اترو له لارې حلول غواړي نو ځکه د ناټو غړو هېوادو منشي ته پکار و چې د خپل اخلاص د ثبوت له پاره د افغانستان د سولې د عالي شورا دغه پر ځای غوښتنې ته لبيک ويلې وای او د عمل په ډگر کې دا ښودلی وای چې ناټو يواځې په خوله نه بلکې د عمل په ډگر کې هم د هر مثبت گام د اوچتولو له پاره تيار دی، په دې کار سره به دوه گټې ترلاسه شوې وې يو دا چې د خلکو له ذهن نه به دا تأثر ختم شوې و چې گويا د افغانستان واک د بهرنيو ځواکونو په لاس کې دی او د افغانستان خاوره عملاً اشغال شوې ده، بله گټه به دا ترلاسه شوې وه چې د سولې په خبرو اترو کې به ښه په زړه پورې پرمختگ شوې و، د افغانانو د مطلق اکثريت غوښتنه دا ده چې ناټو دې د افغانستان د سولې د عالي شورا دغه پر ځای غوښتنه ومني او دا فرصت دې افغانانو ته ورکړي چې پخپلو کې په آرامه زړه د سولې په آزاده فضاء کې خبرې اترې ترسره کړي، که د امريکا په مشری د ناټو غړي هېوادونه واقعاً په افغانستان کې سولې ته اخلاص لري او يواځيني مطلب يې امن راوستل وي نو بيا لدې پرته بله لاره ورته نشته چې د افغانستان د سولې له عالي شورى سره خپل همغږي اعلان او دهغوی په مشوره عمل وکړي. که چېرته د سولې عالي شورى يوه پريکړه کوي او بهرنيو ځواکونو قوماندان دهغې برعکس بله پريکړه کوي نو خدای پوهيږي چې لدې وړی نه به شړی جوړه شي، رښتوني او تلپاتې سولې لپاره دا خورا ضروري ده چې د افغانستان د سولې عالي شورى او د بهرنيو ځواکونو قوماندانان د جلا جلا دريځونو او طرحو پر ځای يوه دريځ او يوه طرحه ولري. ښه به دا وي چې د بهرنيو ځواکونو قوماندانان د سولې د عالي شورى د هرې پريکړې، نه يواځې دا چې تائيد يې وکړي بلکې عمل ورباندې هم وکړي ځکه چې دا کاملاً يو بين الافغاني سوله ده او ددې د برې راز پدې کې دی چې حکومت او د هغه مخالفين د بل چاله مداخلې او فشار پرته خپل مشکلات پخپله حل کړي. نړيوال دې دا واقعيت ومني چې تر ټولو ښه او دوامداره سوله په هغه صورت کې راتلې شي چې پخپله افغانان يې راولي نه بل څوک، د فشار له لارې مسلط شوې سوله هيڅ پايښت نه لري او ژر به جنگ بدليږي، دې له پاره چې د څو لسيزو راهيسې په جنگ ځپلې هېواد کې دايمي سوله راشي او بيا لپاره د جنگ او جگړې په ډگر بدل نشي نو د ناټو د غړيو هېوادو په شمول د گاونډيو هېوادو ستر مسؤوليت دا دی چې په افغانستان کې يو خالص بين الافغاني سولې د ټينگښت له پاره په بشپړ صداقت هلې ځلې وکړي د يو گوند او يا د يو توکم پر ځای په مجموعي ډول له ټولو سره د مطلق افغان په صفت د افغانستان د استحکام او ثبات لپاره مرسته وکړي، تر څو له دې لارې د سيمې هېوادونه هم د آرام ساه واخلي او د بهرنيو ځواکونو د وتلو لپاره هم لاره هواره شي که نه نو دا خبره دی کاڼې کرښه وگڼل شي چې د افغانستان دا جگړه به دداسې ساري وبا بڼه خپله کړي چې هېڅوک به ترينه محفوظ پاتې نشي لکه چې له همدې اوس نه تر ستر گو کيږي.

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره کې

نړېوالو ورځپاڼو هر يو فارن پالیسي او انډيپنډنټ په خپلو ننتيو گڼو کې د افغانستان په اړه مقالې او تحليلونه خپاره کړي چې سلطان سرور ورته کتنه کړې.

فارن پالیسي:

د افغانستان غير ضروري جنگ د هغې مقالې عنوان دی چې فارن پالیسي نشريې خپره کړې ده، نشريه وړاندې ليکي: هغه وروستی غير الزامي وړانديز چې په افغانستان کې د ناټو او امريکايي ځواکونو قوماندان جنرال ډيويډ پيټريوس د طالبانو مشرانو ته کړې بې اساسه نه دي.

سره له دې چې د امريکا او افغان حکومت رسمي دريځ دادی چې طالبان بايد د دولت واک ته غاړه کيږدي خو داسې هم کېدای شي چې افغان او امريکايي ځواکونه له ځينو سيمو ووځي چې وروسته کېدای شي دغه سيمې عملاً طالبان ونيسي.

نشريه وروسته دا پوښتنه مطرح کوي چې که چېرې داسې وشي نو زيان به يې څه وي؟

فارن پالیسي ليکي چې د نيوامريکن فاونډيشن په نامه تحقيقاتي مرکز کې د افغانستان د مطالعاتو گروپ په خپل روستي رپوټ کې په زغرده ويلي چې د ولسمشر باراک اوباما دا نظر چې القاعده شبکه به په هغو ځايونو کې چې ناټو ترې ووځي په خلاص لاس عمل وکولای شي درست نه دی.

رپوټ وايي چې القاعده شبکه په افغانستان کې محدود شمېر کسان لري چې کېدای شي د تروريزم ضد عادي عملياتو په وسيله يې مخه ونيول شي.

بله دا چې ښايي طالبان به بيا القاعده شبکې ته اجازه ورنه کړي چې د دوي په سيمو کې د پام وړ نفوذ پيدا کړي، نشريه زياتوي چې د دغه رپوټ ليکونکي استدلال کوي چې په افغانستان د امريکا پوځي هلې ځلې په واقعيت کې د هغه بغاوت پراخېدو ته زمينه برابروي چې دوي يې د ماتولو کوښښ کوي.

فارن پالیسي نشريه ليکي چې د شيکاگو د پوهنتون عالم استاد رابرت پيپ چې د دغه رپوټ په برابرولو کې يې برخه اخيستې د ۲۲۰۰ انتحاري بريدونو له

مطالعې وروسته دې نتيجې ته رسېدلی دی چې په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو موجوديت د تروريستي بريدونو يو اساسي عامل دی.

بل خوا برېتانوي انډيپنډنټ ورځپاڼې هم د افغانستان په اړه يوې مقالې کې ليکلي چې ولسمشر کرزي په خپل هېواد کې د روسيې د روستي مداخلې په مقابل کې جدي عکس العمل څرگند کړ او هغه يې د خپل هېواد په حاکميت او له نړېوال قانونه تيری وگاڼه.

ورځپاڼه ليکي چې د مخدرو موادو د لابراتوارونو خلاف دغو عملياتو کې څلورو روسي پوځيانو برخه اخيستې وه.

انډيپنډنټ:

انډيپنډنټ ليکي چې دغه عمليات د تېرې اونی په پای کې د افغانستان په ختيځ کې ترسره شول چې د افغانستان، ناټو او روسيې اوياوو عسکرو د هيلي کوپټرو په ملاتړ په کې برخه واخيسته، د دغو عملياتو په ترڅ کې د ۲۵۰ ميليونو ډالرو په بيه مخدر مواد له منځه يوړل شول.

انډيپنډنټ ورځپاڼه ليکي چې مسکو په افغانستان کې د روسيې ځواکونو د عملياتو په وړاندې د افغانستان عکس العمل ته حيرانه دی تردی چې د روسيې يو چارواکي ادعا کوي چې په دې اړه يې کابل ته خبر ورکړی وو او دغه عمليات مخکې له مخکې د افغانستان کورنيو چارو وزارت سره هماهنگ شوي وو.

انډيپنډنټ ورځپاڼه ليکي چې په افغانستان کې د روسيې د نفوذ چټکې پراختيا حساسيتونه رامنځ ته کړي دي، يوويشت کاله مخکې د پخواني شوروی اتحاد ځواکونو وروسته له دې چې په افغانستان کې يې ډېر تلفات وگالل او لويې پوځي ماتې سره مخامخ شول دغه هېواد پرېښوده.

ورځپاڼه ليکي چې د شوروي ځواکونو له خوا د افغانستان د نهه کلن اشغال په ترڅ کې لسگونه زره روسي عسکر مړه او ټپيان شول او وروسته له اشغاله په افغانستان کې کورنۍ جگړه پيل شوه.

د شوروي اشغال افغانانو ته له ماينونو ډکې ځمکې پرېښودې، ورځپاڼه وړاندې ليکي چې د افغانستان گڼ اوسنې مشران د شوروي اتحاد د ځواکونو خلاف جنگېدلي دي او د خپل پخواني دښمن څخه ډېرې ترخې خاطرې لري.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله کامه وال

پخوانی نوم: تيمس تيکلس * اسلامي نوم: احمد برازيلي

پخوانی مذهب: عيسايي

د احمد برازيلي اسلام منل

زه تر هر څه زيات قرآن کريم اسلام ته مايل کړم

د احمد برازيلي په تأثراتو کې به ووينو چې د تثليث د چټياتو او د مذهبي مشرانو د سفارشونو په اړه څه وايي او څومره نور به پدا حال وي.

نوموړی د جامعه الاسلاميه نوټنگم بريتانيا د عربي په لومړی ټولگي کې يو ډېر خواري کښ زده کوونکې و چې ملگرو به ورته احمد برازيلي ويل. دا ځوان د برازيل سنپال ښار اوسيدونکې و چې درې کاله وړاندې يې اسلام منلی و تر دې وړاندې د عيسوي رومن کيتولک پيرو کار و. د احمد برازيلي پلار يو سرسخته عيسوي و ده به هميشه خپل زوی ته چرچ ته په ورتگ زيات ټينگار کاو، ده غوښتل چې زوی يې يو ښه پوخ عيسوي او مذهبي شخص جوړ شي. احمد برازيلي دا وقت د فلسفې زده کوونکې او په فلسفه کې يې زياته مطالعه درلوده، دې به د همدې مطالعې د بر کته په هره مسئله کې زيات فکر کاوه او په ځانگړې توگه په هغو مسايلو کې چې د عقل او پوهې به لرې و، او متضاد به واقع کېده، ده به ويل چې په يو آسماني او الهي دين کې دا قسم خبرې څنگه راتلې شي؟ کله به چې پادري پرهغه ددې خبرې د منلو کوشش کاو چې پلار (خدای) زوی (عيسی) او روح القدس درې واړه مهم خدايان دي او بيا به يې فوراً وويل چې درې واړه يو دي نو په دې خبره به احمد وويل چې يو خوا ټول بيل بيل خدايان شول او بيا وايي چې ټول يو دي دا خو متضادې خبرې دي داسې نشي کېدلې، دا د تضاد يوه وړه مسأله نه ده بلکه د عيسويت تر ټولو لويه او مهمه مسأله ده نو دې د تثليث په دې مسألې پريشانه شو. پادري چې د احمد په مخکې د پريشانی اثرات وليدل نو کوشش يې وکړل چې قناعت ورکړي خو د هغه عقل دا نه منله.

د احمد برازيلي پلار رومن کتولک و، په رومن کتولک کې پادري د خدای لپاره واسطه گڼل کېږي، پادري ته دا حق حاصل وي چې د يو چا په حق کې خدای ته سپارښت وکړي دهغه گناه وبخښي د پادري پرته څوک خدای ته نشي رسيدای د احمد په ذهن دا هم يو لوی سوال و چې څنگه يو څوک چې زمونږ په څير انسان دی هغه د خدای له لورې د گناه بخښوونکې کېدې شي او زمونږ د گنهگار رابطه له خدای سره نشي کيدلای؟ او دا څنگه خدای دی چې زمونږ د امت او دده خدايي ترمنځ يې يو شی حايل کړې دی؟

بله دا چې د صليب ښه هم دې پريشانه او سوالونو سره مخ کړې و، هغه دا چې هغه تصوير چې مونږ په خپل لاسو يې جوړوو بيا دهغې عبادت کوو او خپل رب گڼو.

احمد برازيلي عيسويت او دهغې منونکو ته حيران و او په ځانگړې توگه دغو درېو مسألو ته چې يو تثليث، بله د پادري سفارش او بل تصوير ته خدای ويل، هغه دغو درې واړو پوښتنو ډېر په فکر کې اچولې و چې په دې وخت کې يې په خپله ژبه پورتگيز کې د اسلام په هکله کتابونه ترلاسه کړل او د اسلام مطالعه يې شروع کړه د اسلام په هکله چې څومره ژوره مطالعه وکړه هومره يې خوشحالي او رڼا په برخه شوه.

دې وايي چې په اسلامي مطالعه کې مې تر ټولو زياته دا خبره خوښه شوه چې اسلام لومړنی دين دی چې وايي: الله يو دی او د عبادت لايق يوازې همغه ذات دی او همغه کار جوړوونکې دی، يوازې همغه ذات دی چې زمونږ گناهونه معاف کولې شي او ددې لپاره نه د پادري ضرورت شته او نه د بل چا بلکه نيغ په نيغه د خپل رب سره اړيکه نيسو او چې څومره وغواړو خپل رب ته نژدې کېدلې شو، دا د توحيد درس دی چې زه يې د عيسويت د دين نه اسلام لورې ته راوستم.

احمد وايي زه په دې هم ډېر وياړم چې مسلمانان ټولو پيغمبرانو ته يو شان احترام لري او د هيڅ يو نبي سپکه هم نشي منلی خو عيسويان او يهودان دومره زياتې کوي چې خپل پيغمبر ته د خدای درجه ورکوي خو د نورو نه يواځې دا چې انکار کوي بلکې توهين يې هم کوي حال دا چې د الله له لوري رالېږل شوي نبيان ټول د احترام وړ دي. کله چې د حضرت عيسی نوم په احترام واخيستل شي احمد د خوشحالی ټپونه وهي. ښاغلې احمد زياتوي چې زمونږ په هېواد برازيل کې زيات خلک داسې دي چې د حق په لټه کې دي او هلته په سهي معنی د اسلام وړاندې کوونکې نشته هلته يو څو عرب ورونه شته خو د سنتو دومره پابند ندي چې دعوت وکړي هغوی زمونږ په څېر د دنيا په راټولولو کې مصروف دي نو ځکه هلته اسلام دومره پياوړې نه دی کاش سني مسلمانان د دعوت لاره خپله کړي څومره برازيلي وگړي به د دوزخ له اوره په امن او د ايمان په دولت سنبال شي.

احمد برازيلي وايي زيات شمېر عيسويان په دې ښه پوهيږي چې د تثليث مسأله يوه غير منطقي مسأله ده خو د ماحول او معاشرې د ويرې دا غير منطقي مسأله يې منلی، د تثليث مسأله د هغوی ذهن بالکل نه مني خو دا جرأت هم نشي کولای چې د هغه په وړاندې بغاوت وکړي. زه په دې يقين لرم چې په خپله پادريان هم د تثليث په هکله مطمئن نه دي خو د ټولنې له ويرې نشي ويلې.

د احمد هيله داده چې په لومړی سر کې ديني تعليم پوره کړي بيا برازيل ته ولاړ شي او هلته د يوې نوی مسلمانه شوې جينی سره چې په تعليم بوخته ده واده وکړي او خپل کور جوړ کړي له هغې وروسته د اسلام د خپراوي لپاره د دعوت لاره خپله کړي تر څو په ټول برازيل کې د اسلام پلوشې خپرې شي.

شهادت اوونیزه
خپروونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر عبدالله کامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
دیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

نخست وزیر دنمارک: اهداف غرب برای افغانستان "غیر واقعی " است

خبرگزاري فارس:
نخست وزیر دنمارک در کتاب جدید خود نوشته است که اهداف کشورهای غربی برای افغانستان غیرواقعی است.

به نقل از خبرگزاری فرانسه، "لارس لئوک راسموسن " در کتاب جدید خود نوشته است که تنها هدف حضور نیروهای دنمارکي در افغانستان این است که اجازه ندهند که این کشور مجدداً به مخفیگاه تروریستی تبدیل شود و هدف، ایجاد دموکراسی در این کشور نبوده است.

وی در این کتاب تاکید کرده است: ما آنجا هستیم تا این اطمینان حاصل شود که این کشور بار دیگر به مخفیگاه تروریستها تبدیل نشود، نه بیشتر و نه کمتر. ما در افغانستان نیستیم تا آموزشی عمومی یا ایجاد دموکراسی در افغانستان را گسترش دهیم.

کتاب جدید لارس لئوک راسموسن با نام "از نظر داستان " روز سه شنبه به چاپ رسیده است.

نوشته نخست وزیر دنمارک در این کتاب بر خلاف اظهارات اولیه دانمارک درباره دلیل حضور این کشور در افغانستان است. دنمارک که از سال ۲۰۰۲ حضور نظامي خود در افغانستان را آغاز کرده اعلام کرده بود که در ایجاد موسسات دموکراتیک در افغانستان نقش ایفا خواهد کرد.

راسموسن در این کتاب تایید کرده است برخی اهدفی که توسط غرب برای افغانستان در نظر گرفته شده، غیر واقعی است.

دنمارک ۷۵۰نیرو تحت فرماندهی ناتو در افغانستان دارد. بخش عمده ای از نیروهای دانمارکی در ولایت هلمند مستقر هستند. در مجموع از زمان آغاز عملیات دنمارک در افغانستان، ۳۸ نظامي این کشور در افغانستان کشته شده‌اند.

درې مهمو طالب مقاماتو له ...

لوري کابل ته د خبرو لپاره د مولوی کبیر د رسولو په باب خبرونه خپاره شوي ول.

مولوي کبیر د جلال الدین حقاني په شان ،چې د دې خبري اژانس په وینا په شمالي وزیرستان کې د طالبانو یوه جلا شبکه لري، په خټه ځدراڼ دی.

امریکایي او افغان چارواکي هیله لري که مولوي کبیر له جګړې لاس واخلي ځدراڼ به جګړه بس کړي او حقاني شبکه به په خپل قوم کې د جګړه مارو له موندلو بې برخې شي.

خو تراوسه پوري څرګنده نه ده چې دوارو خواوو په خپلو خبرو کې کوم پرمختګ هم کړی دی او کنه.

اسوشیتید پریس خبري اژانس وایي چې په ځدرانو کې د حقاني شبکې کمزورتیا کېدای شي د افغانستان په جنوب ختیځ کې ،چې د حقاني شبکه پکې پیاوړی رول لري،د قدرت انډول بدل کړي.

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې باور کېږي چې جلال الدین حقاني او د هغه د زوی سراج الدین حقاني په مشری د حقاني شبکې د القاعده شبکې مشرانو ته د پاکستان په سرحدي سیمو کې پناه ورکړې ده.

مولوي کبیر د طالبانو د واکمنی په موده کې د ننګرهار والي او یوه موده هم د صدارت مرستیال وو.

ویل کېږي چې دی په پېښور کې د طالبانو د شورا مشري کوي خو د طالبانو په منځ کې ډېر غښتلی نه ګڼل کېږي.

مولوي صدراعظم او انورالحق مجاهد دوه نور طالب مقامات دي چې د افغانستان له ولسمشرسره یې په خبرو کې برخه لرله.

افغان مقام وویل ، ویل کېږي چې انورالحق مجاهد په ۲۰۰۱ ع کال له توري بوړې څخه د اسامه بن لادن په تېښتې کې مهم رول لوبولی وو.

مجاهد د تېر کال له جون څخه د پاکستان د حکومت په توقیف کې دی.دی په پېښور کې د پاکستاني ځواکونو په یوه چاپه کې ونیول شو.

مولوي کبیر،انورالحق مجاهد او مولوي صدراعظم په یوه هیلي کوپتر کې له پېښوره کابل ته ورسول شول او مخکې تر دې چې بېرته پاکستان ته لاړ شي دوې شپې یې د کابل په یوه لوکس هوټل کې تېرې کړې.

پرون هولبروک وویل څیني کسان چې له طالبانو سره اوږه په اوږه جنګېدلي ، د طالبانو مشران نه دي،تماسونه یې نیولي،تېلفون یې پورته کړی یوه خبره یې کړې او ویلي یې دي چې له جګړې ستومانه شوي دي،غواړي خبرې وکړي.

هولبروک د چا نوم وانخیست خو ویې ویل دا ډول کسان سیمه ییز مشران او څیني قومندانان دي.دا کسان د ناټو دځواکونو له لوري د سختو شویوعملیاتو له کبله ترفشار لاندې دي.

تقریباً همهء ملاقات های مقامات ...

ولی دریافت های مجلهء نیوزیک مبین آنست که دریافت پول از دفتر رییس جمهور کرزی خیلی فرا تر می رود. در حقیقت مقامات ایرانی به خاطر پیش برد اجندای ایران در افغانستان، به طور دوامدار برای مقامات حکومتی، سیاست مداران، رهبران مذهبی و قومی افغان پول می پردازند.

طبعاً همهء مقامات افغان این حرکت را به دیدهء اغماض نمی نگرند. دو مقام افغان که نظر به حساسیت موضوع از افشای نامشان خودداری کردند، به مجلهء نیوزیک گفته اند، در ماه مارچ سال گذشته رنگین دادفر سپنتا وزیر سابق کابینهء افغانستان که از علاقمندان امریکا نمی باشد، در جریان مسافرت به تهران به همتای ایرانی اش گفت که از چادر های دراز که خانم های ایرانی می پوشند خوشش می آید. هنگامی که وی ایران را ترک می کرد، مقامات وزارت خارجهء ایران یک بسته را به وی داده، گفتند که یک چادر به طور تحفه برای خانمش تقدیم شده است. زمانی که سپنتا و خانمش تحفه را باز کردند. دیده شد که چادر بدور ۵۰۰۰۰ دالر نوت های جدید و کاغذ پیچ، پیچیده شده است. آقای سپنتا فوراً حامد کرزی را در جریان قرار داده، پیشنهاد مسترد ساختن پول ها را به ایرانی ها کرد.

ولی آقای کرزی از سپنتا خواست در مورد پول خاموشی اختیار کرده، ایران را شرمسار و بر آشفته نسازد و پول را در برنامه های وزارت خارجه مصرف کند.

زمانی که مجلهء نیوزیک با آقای سپنتا تماس گرفت، وی دریافت پول را از جانب ایران تایید کرد و گفت، آن را به وزارت مالیهء افغانستان تسلیم کرده است.

آقای سپنتا از ارایهء جزییات بیشتر در این مورد خوداری کرد.

وحید عمر سخنگوی حامد کرزی می گوید که رییس جمهور و آقای سپنتا در مورد این که پول دریافت شده باید به وزارت مالیه سپرده شود، توافق کردند و پول مذکور به مصرف شخصی هیچ کس نرسیده است.

یک وزیر سابق کابینهء افغانستان می گوید که تقریباً همهء ملاقات های مقامات افغانی و ایران با تقدیم خریطه های پول نقد پایان یافته است .

مجلهء نیوزیک می نویسد:

تهران با برخی سیاستمداران با نفوذ مربوط به گروپ های مشخص قومی تاجک و هزاره، تخم مناسبات عمیق و فرا تر از پول را کاشته است. ایران در سالیان ۱۹۹۰ بر ضد طالبان، وسیعاً از اتحاد شمال که از تاجک ها و هزاره ها تشکیل شده بودند، حمایت می کرد. ایران با آن قوماندانان سابق به شمول معاون دوم رییس جمهور ارتباط دارد.

مجلهء نیوزیک در ادامه این مطلب می نویسد:

اطرافیان پشتون حامد کرزی عمدتاً از امریکا طرفداری می کنند. آگاهان امور به شمول یک وزیر سابق کابینه می گوید، کابینهء حامد کرزی به دو بخش منقسم شده است:

طرفداران ایران که توسط کریم خلیلی معاون رییس جمهور و طرفداران امریکا که توسط عمر زاخیلوال وزیر مالیه رهبری می شوند، اما طرفداران ایران دست بالا تر دارند.

موضوع مذاکرات صلح با طالبان ...

ریچارد هولبروک نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان، گزارش ها در مورد مذاکرات مخفی در این مورد را رد کرده است .

این گزارش ها، زمانی پخش شد که جنرال دیوید پیترویس قوماندان عمومی نیرو های امریکایی و ناتو گفت، زمینه انتقال قوماندانان طالبان را به کابل فراهم کرده است.

هیلاری کلنتن وزیر خارجه امریکا در این مورد گفت، تلاش های دسته جمعی برای مذاکرات یک آغاز است و همزمان با او، رابرت گیتس وزیر دفاع امریکا گفت، واشنگتن در این مورد هر اقدام ممکن را اتخاذ خواهد کرد.

مارک سیدویل نماینده ناتو در افغانستان گفته که تماس ها، شبکه یی از روابط با اعضای مهم گروه طالبان خواهد بود .

اما از جانب طالبان، ذبیح الله مجاهد سخنگوی این گروه، گزارش ها در مورد مذاکرات را رد کرده و یک بار دیگر بالای موضع قبلی طالبان تاکید کرده است که باید نیرو های خارجی افغانستان را ترک کنند.

سوال دیگر در مورد بازیگران کلیدی مطرح شده است؟

نخست حامد کرزی، که از مدت‌ها به این سو از مذاکرات با طالبان حمایت کرده است. او اخیراً شورای عالی صلح را تشکیل داد تا موضع نرمتری برای مذاکرات با طالبان داشته باشد.

تقاضای کرزی از طالبان، دست برداشتن از خشونت، قطع روابط با شبکه القاعده و پذیرش قانون اساسی افغانستان است.

در جناح مقابل کرزی مخالفین به سه بخش عمده تقسیم شده اند.

طالبان، حزب اسلامی حکمتیار و شبکه حقانی.

گروه طالبان در سال ۲۰۰۱ میلادی توسط امریکا و نیروهای تحت حمایت این کشور، از قدرت بر کنار شد. آنها در حال حاضر پناه گاه های را در جنوب افغانستان ایجاد کرده و شورش ها را به سایر مناطق کشور گسترش داده اند.

حزب اسلامی گلبدین حکمیتار، گروه دیگریست که مخالف دولت افغانستان است. مقامات امریکایی می گویند، حکمتیار می خواهد تا در حکومت آینده افغانستان، موقفی داشته باشد.

حزب اسلامی در ماه مارچ امسال هیاتی را برای گفتگو به کابل فرستاد اما این دیدار بی نتیجه ماند.

گروه دیگر دخیل در شورش های افغانستان، شبکه حقانی است. این گروه با شبکه القاعده و سازمان استخبارات پاکستان یا آی اس آی روابط داشته است.

شبکه حقانی با طالبان متحد بوده و در جنوب و شمال افغانستان فعالیت دارد اما مقامات امریکایی می گویند که این گروه در برخی موارد به تنهایی نیز عمل می کند.

در سطح کشور ها، نقش پاکستان و عربستان سعودی در مساله افغانستان کلیدی خوانده شده است.

اسلام آباد می گوید که بدون کمک پاکستان، رسیدن به توافق صلح ناممکن است. اما گفته می شود که برخی عناصر آی اس آی از شورشیان حمایت می کنند.

عربستان سعودی هم تا حالا مذاکرات با طالبان را میزبانی کرده و می خواهد تا در این مورد میانجی باشد زیرا عربستان یکی از سه کشوری بود که رژیم طالبان را در گذشته به رسمیت می شناخت.

اما در سطح جهان، اداره بارک اوباما رییس جمهور امریکا می خواهد تا خروج از افغانستان را در ماه جولای سال آینده آغاز کند .

اوباما و برخی از رهبران کشور های که به افغانستان نیروی نظامی فرستاده اند، تحت فشار مردم خود قرار دارند تا عساکر خود را از افغانستان خارج کنند.

مقامات امریکایی نیز به طرح رییس جمهور کرزی تاکید دارند که مذاکرات در سه حالت ممکن خواهد بود، شورشیان روابط با القاعده را قطع کنند، سلاح خود را برزمین بگذارند و قانون اساسی افغانستان را بپذیرد .

لست مصارف ریاست جمهوری ...

شده است. سخنگوی رییس جمهور می گوید، این طرح دارای ابعاد مختلف بوده که در آن از مصارف گزاف از سوی مقامات دولتی جلوگیری به عمل آمده است. به گفته وی، رییس جمهور کرزی در سخنرانی که در انستیتوت خدمات ملکی داشت به محصلان انستیتوت وعده داد تا از مصارف مقامات دولتی جلوگیری نموده و پول پس انداز شده آنرا درعرصه توسعه تحصیلات عالی و بورسیه های محصلین به مصرف برسانند.

گفته می شود که مقامات دولتی ماهانه میلیون ها افغانی را غرض موضوعات تشریفاتی به مصرف می رسانند که این خساره بزرگی برای اقتصاد کشوراست.

وحید عمر از ارایه طرح وزارت معارف به منظور ایجاد یک مضمون درسی در مکاتب تحت عنوان حس وطن دوستی نیز خبر داد و گفت که وزارت معارف طرحی را به مجلس وزراء پیشکش نموده که در آن یک مضمون درسی در نصاب تعلیمی گنجانیده شده است. سخنگوی ریاست جمهوری خاطرنشان ساخت که در آینده نزدیک مضمون درسی و یا مطالبی در این خصوص در پلان درسی نصاب تعلیمی گنجانیده خواهد شد. این در حالی که یک خبرنگار در یکی از نشست های خبری رییس جمهور پیامی پیره زنی را به آقای کرزی رسانید که در آن اشاره به ایجاد یک مضمون درسی در نصاب تعلیمی شده بود که بتواند حس وطن دوستی را درمیان شاگردان مکاتب زنده بسازد.

سویډن په افغانستان کې د خپل ...

سوسیال ډیموکراتو له مشرې موناساهلین سره خبرې پیل کړي دي.

په افغانستان کې تر اوسه پنځه سویډني عسکر وژل شوي دي.

کین اړخی ګوند غوښتنه لري چې سویډني ځواکونه دې په ۲۰۱۱م کال کې له افغانستانه ووځي. د سویډن پارلمان په ۲۰۰۹م کال کې د ۸۸۵سویډني عسکرو ماموریت ته رایه ورکړه، چې په افغانستان کې به د نورو بهرنیو پوځیانو تر څنګ فعالیت لري. زرغون ګوند او سوسیال ډیموکراتانو هم د دې پرېکړې ملاتړ وکړ.

نظامیان روس به افغانستان باز...

عملیات، سه جانبه بود و توسط نیروهای ویژه وزارت کشور افغانستان و با مشارکت نیروهاي نظامي امریکایي انجام گرفت و نقش روسیه تنها جنبه رایزني و ارائه اطلاعات داشت که متخصصان ما در شناسایی محل استقرار لابراتوارهای تولید هروئین و مرفین کمک کردند. "

لاوروف یادآور شد: "من معتقدم که چنین همکاري قبل از هر چیز با وزارت کشور افغانستان ادامه خواهد داشت، به این دلیل که تهدید مواد مخدر نشأت گرفته از این کشور، تهدیدی واقعی برای صلح و امنیت بین‌الملل است. "

وي افزود: "شهروندان روسي و کشورهاي آسیاي مرکزي مستقیما این تهدید را که بیش از پیش زندگي آنها را در معرض خطر قرار داده احساس مي کنند. به همین دلیل باید با این پدیده شوم به مبارزه جدي پرداخت و ما در آینده نیز با ارائه اطلاعات به دولت افغانستان و سایر نیروهای بین‌المللی که با مواد مخدر مبارزه مي کنند، کمک خواهیم کرد. "

پیش از این برخی رسانه‌های غربی با اعلام خبر عملیات مبارزه با مواد مخدر مشترک روسیه و امریکا افزوده بودند که با اجرای این عملیات مشترک چکمه های نظامیان روسی یکبار دیگر بر خاک افغانستان به زمین کوبیده شد.

د هېواد د ستر عالم دین شیخ ...

کړه. خدای بخښلي مولوی تره خېل په پېښور کې د حزب اسلامي په ګوند کې تر یوې مودې پورې د لوی مفتي دنده درلوده. نوموړي په هېواد کې دننه او دباندې زرګونه شاګردان لري چې د آخرت لپاره ورته د جاریې صدقې ستره ذخیره ده.

حزب اسلامي افغانستان د شیخ الحدیث مولانا تره خېل مړینه د هېواد په علمي ډګر کې یوه نه جبرانېدونکې ضایع ګڼي او په دې دروند غم کې یې له کورنۍ سره خپل ځان شریک ګڼي. لوی الله دې په جنت الفردوس کې ځای ورکړي. آمین